**بسم الله الرحمن الرحيم**

## انسان د خپل خليل (دوست) پر دين دی

**(ژباړه)**

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«الرجل على دين خليله فلينظر أحدكم من يخالل»**

***ژباړه:*** *هر شخص د خپل دوست پر دين دی، نو له تاسو څخه هر يو بايد متوجه وي چې له چا سره دوستي او ملګرتيا کوي.*

د جامع الترمذي په شرحه تحفهة الأحوذي کې راغلي دي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره (**الرجل**) د انسان په معنا ده. همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره (**على دين خليله**) په دې معنا ده چې انسان د خپل دوست په عادت، طريقه او لاره دی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم له دغې خبرې (**فلينظر**) څخه موخه دا ده، چې فکر وکړه. همدارنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره (**من يخالل**) له (**مخاله**) کلمې څخه اخيستل شوې ده، چې د دوستۍ په معنا ده. که د يو چا دين او اخلاق دې خوښ شول، له هغه سره دوستي وکړه او له دې پرته ترې لرې اوسه. دوستي د شخصيتونو په اصلاح او خرابوالي کې اساسي اغېز لري. امام غزالي وايي: «له حريص انسان سره دوستي او ملګرتيا کول، تا حريص کوي او په دنيا کې له ذاهد او متقي انسان سره دوستي او ملګرتيا کول، تا مومن او متقي کوي. شخصيتونه په پيروۍ کولو او الګوه نيولو سره جوړېږي او په غيرشعوري توګه له يوه څخه بل کس ته لېږدول کېږي.»

قرافي وايي: «ټول انسانان راز نه ساتي او د دوستۍ او ملګرتيا وړتيا نه لري.»

علقمه وايي: «له هغه چا سره دوستي وکړه، چې دوستي يې د نېکۍ په لوري ستا د تګ لامل شي او که له ستونزې سره مخ شې، چې مرسته درسره وکړي. کله چې څه ووايې، نو خبره دې ومني او چې يو نېک کار ترسره کړې، هغه يې نور هم پراخ کړي او کله چې ناوړه عمل ترسره کړې، منعه دې کړي. کله چې يو شی ورڅخه وغواړې، در يې کړي او کله چې له سخت او ستونزمن کار سره مخ شې، نو ډاډ درکړي. تا ته يې شر ونه رسېږي او ستا د لارې مخالفت هم ونه کړي.»

شيخ احمد بن عطاء وايي: «له هغو کسانو سره ملګرتيا کول چې په سمه لار کې دې مخالفت کوي، روح دې له منځه وړي او له هغو کسانو سره ملګرتيا کول چې درسره جوړ دي، عقل دې پراخوي. نو هر څوک چې درسره ملګری وي، له تاسره انس او محبت نه لري او هر هغه څوک چې له تا سره محبت ونه لري، راز ساتونکی دې نه دی او يوازې هغه کسان راز ساتلی شي، چې په امانت کې خيانت نه کوي.»

**ګرانو دوستانو!**

په اوسني وخت کې ځينې خلک د خپل ځان او خپلو اولادونو پر حالت افسوس کوي او له ځانه پوښتي چې ولې دغه حالت پر هغه او يا يې پر اولاد راغلی دی او پوښتنه کوي چې څه ډول دغه حالت اصلاح کولی شي؛ په

داسې حال کې چې له دې ناخبره دی، چې د دغه حالت اصلي لامل یې له دوستانو او ملګرو څخه اغېزمنېدل دي. ټول هغه موضوعات چې پاس یې یادونه وشوه، په حقیقت کې د دغې موضوع اهمیت څرګندوي. هر کس باید خپل وضعیت ته پام وکړي او پرې لازمه ده چې خپل شخصیت بدل کړي او د ځان لپاره داسې دوستان باید وټاکي چې د الله سبحانه وتعالی په طاعت کې ورسره مرسته وکړي. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې د ټل لپاره مو د متقیانو ملګري کړي.

**ژباړن: صهیب منصور**